
NHS England South East



# د تخمدان تحریکول او زیږون

## د امیندواره میرمنو لپاره معلومات

Pashto



د مصروفو وختونو په جریان کې، ستاسو پاملرنه او هغه څه چې تاسو ورته پام کوئ زموږ لپاره خورا مهم دي، موږ به ستاسو سره د ډېرو شیانو په اړه وغږیږو او تاسو کولای شئ پوښتني وکړئ.

# د تخمدان د تحریک ځنډ

ځیني وختونه د زیږون چارو عمله او کارمندان د عادي حالت څخه ډیر بوخت وي، په ځانګړي توګه هغه مهال چې ډیری ماشومان په ورته وخت کې پیدا شي. کله چې داسي څه پیښ شي، موږ باید کارمندان بدل کړو او بیړنی پاملرنې ته لومړیتوب ورکړو. د تخمدان تحریکولو ټولي چاري مهمي دي مګر ځیني وختونه دا اړینه وي چې د تخمدان د تحریکولو ځنډول یا بل روغتون ته د لیږد وړاندیز له دې امله اړین وي چې ژر تر ژره پاملرنه چمتو شي. دا یواځې په استثنایي حالاتو کې پیښیږي.


دا خبر کېدای شي ډېر مایوسه کونکی وي، په ځانګړي توګه که تاسو د ماشوم پالنې، د کورنۍ سره د لیدنې او حتی ستاسو د ماشوم سره د لیدنې پلان جوړ کړی وي. تاسو ممکن په دې اړه هم اندېښنه ولرئ چې ستاسو او ستاسو ماشوم لپاره انتظار کول څومره خوندي دي.

- که یو څه ستاسو لپاره ډېر ستونزمن یا ډېر مهم وي، مهرباني وکړئ زموږ سره خبرې وکړئ، موږ ممکن نور څه ونه کړو، مګر موږ تل غواړو پوه شو چې تاسو څنګه احساس کوئ.
- ستاسو د تخمدان یا زیږون تحریکولو چار د پیلولو یا دوام کې به ځنډ یواځې هغه وخت رامینځته شي چې دا کار خوندي وګڼل شي او د روغتون کارمندانو د پلان سره سم پروسې ته د دوام ورکولو لپاره ټولې هڅې کړي وي.

د ځنډ په جریان کې، کېدای شي ستاسو قابله ستاسو سره ستاسو د ماشوم د حرکتونو په اړه خبرې وکړي او معلومه کړي چې تاسو څنګه احساس کوئ. که تاسو په کور کې یاست، ممکن له تاسو څخه وغوښتل شي چې د معاینې لپاره روغتون ته ورشئ. پدې کې د ماشوم د زړه د اندازې څارنه (CTG)، سکین یا د نورو معاینو ترسره کول شامل وي. کېدای شي له تاسو څخه وغوښتل شي چې د تخمدان تحریکولو ته د انتظار تروخته په روغتون کې پاتې شئ؛ ددې موضوع په اړه به ستاسو سره خبرې وشي.

**که تاسو په روغتون کې یاست یا په کور کې، که تاسو اندیښمن یاست یا له دې نښو څخه کومه یوه ولرئ، زیږون د درملنې ټیم سره اړیکه ونیسئ یا په روغتون کې د قابلې سره خبرې وکړئ.**

**د تلیفون هغه شمیره چې تاسو کولای شئ زنګ ورته ووهئ** ______________________



د مهبل څخه وينه بهېدل
(خونريزي)



د افرازاتو زياتوالی، په ځانګړې توګه
که دا اوبلن وي



د اوبو کڅوړې چاودل



د ماشوم حرکتونه کم يا بدلېږي



د ناروغۍ احساس وکړئ يا مو د
تودوخې درجه (تبه) لوړه شي.



ستاسو پر نس درد شي، چې دا
دردونه کېدای شي راشي او لاړ
شي يا هم دوامداره وي.



خارش



ستاسو د لاسونو، پښو يا مخ
پړسوب



ستاسو په ليد کې بدلون يا سر درد


**د تل په څېر، دا مهمه ده چې ستاسو د ماشوم حرکتونه وپېژنئ او هر ډول بدلونونه معلوم کړئ**

# بل روغتون ته لیږدول

ځینې وختونه تاسو ته وړاندیز کیږي چې د ماشوم د زیږون لپاره بل روغتون ته لاړ شئ، دا په هغه صورت کې که چیرې هغوی ژر تر ژره د پاملرنې خدمات چمتو کړي. که دا یو انتخاب وي نو په دې اړه به ستاسو سره بحث وشي. دا ستاسو انتخاب دی او تاسو مکلف یا مجبور نه یاست چې بل روغتون ته لاړشئ.

ستاسو د زیږون انتخابونه او هغه څه چې تاسو ته اړین دي زموږ لپاره مهم دي. که دا ستاسو د زیږون چارو پر انتخابونو اغیزه کوي، تاسو کولای شئ چې په دې اړه پوښتنې او بحث وکړئ.

که تاسو پریکړه وکړئ چې بل روغتون ته لاړ شئ، هغه ټیم چې ستاسو پاملرنه کوي باید ډاډ ترلاسه کړي چې کوم روغتون ته چې تاسو ورځئ ټول مهم معلومات باید ولري، چې په دې کې ستاسو د زیږون غوره توبونه او د شخصي پاملرنې پلان (که تاسو یې ولرئ) شامل دی. کله چې ستاسو ماشوم وزیږي، دوی به ستاسو د اصلي روغتون سره اړیکه ونیسي ترڅو چې کله تاسو کور ته راستنیږئ، دوی به ستاسو د پاملرنې لپاره یو پلان جوړ کړي.



southeastclinicalnetworks.nhs.uk/
induction-of-labour

South East Maternity and Neonatal Team

CS57215 NHS Creative 2024